د سولې او دموکراسۍ لپاره
د یوشانوالي د موسسه

EPD EQUALITY for Peace and Democracy

# کلنی راپور

# 2014



# د اجرائیوي مشرې پیغام

د سولې او دموکراسۍ یو شانوالي موسسې (EPD) د مشرې او بنسټ ایښودونکې په توګه د سولې او دموکراسۍ د یوشانوالي موسسې د کار او ادارې د موسسوي پرمختګ له امله خوښه یم او ویاړم چې په ۲۰۱۴ کال کښې یې تر سره کړی دی. په دی موده کښې ، د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسې د هر لحاظه وده کړې ده او د یوې نوي تاسیس شوي ادارې په پرتله چې په ۲۰۱۰ کال تاسیس شوی وه د یوې ښه ادارې درجې ته چې په مدني ټولنه کښې په ټول افغانستان کښې پروګرامونه تر سره کوي ، لوړه شوې ده.

په ۲۰۱۴ کال کښی د سولې او دموکراسۍ یو شانوالي موسسه د یو شمیر کانفرانسونو او غونډو کوربه وه ، چې په هغو کښې د میرمنو او ټاکنو په اړه یو ښه تنظیم شوي ملي کنفرانس چې د ۳۴ ولایتونو څخه پکښې میرمنو ګډون کړی وه او د ولس مشرۍ د ټاکنو یو شمیر نوماندان هم ورته راغلی وو. زمونږ د روڼتیا او حساب ورکولو افغانی یووالي ادارې او د میرمنو ولایتی شبکي د پلیټ فارم له لارې ، د دې ډلو فعالیتونو لمنه په ملي سطحه د ټولنې تر ښکتنی پوړونو پورې و غزیدله. چې په محلي سطحه داسې موضوعات لکه په ټاکنو کښې د میرمنو ګډون ، د میرمنو پر وړاندی د تاوتریخوالی کمښت ، او د ښه حکومتداری د ودې فعالیتونه چې د عامه پوهاوي فعالیتونه هم ورسره مل وو ، شامل دي. دې فعالیتونو چی په لوړه کچه د میرمنو حرکت ، د اوسیدونکو د فعالیت شتون هم پکښې شامل دي. په حکومت کښې روڼتیا او حساب ورکولو ته وده ورکول او د سولې او سیاسي بهیرونو کښې فعال ګډون په زړه پورې پایلې لرلې. پر دې سربیره په ۲۰۱۵ کال کښې د EPD د پروګرامونو د محلي عنعنوي ، مذهبي او مدني ټولنو د مشرانو چې د EPD د پلیټ فورم د نوښتګریو له لارې تطبیق شوو فعالیتونو دوامداره بریالیتوبونه تر لاسه کړي دي.

سږ کال په دوامداره ډول د سولې او دموکراسۍ یو شانوالي موسسې د ملي بودجې او فساد پرضد ، د مدني ټولنې رهبري کوله چې په دوی کښې په ټول افغانستان کښې په ټولنیزه کچه د څارنې میکانیزمونه او عامو اوسیدونکو د نمرو ورکولو کارت ارزونې شاملې وې تر څو د سولې او دموکراسۍ یو شانوالي موسسې د ملي بودجې د کلنۍ بیا کتنې سره مرسته وکړي. د ډیرو بریالیتوبونو سره ، لکه د ټول کلی لپاره د څښاک د اوبو برابرول ، د ښوونځیو لپاره د احاطې د دیوالونو جوړول ، او د ټولنې په سطحه د لوست د کورسونو لپاره ملاتړ برابرول ، مونږه ډیر خوښ یو چی دغه نوښتونو رامنځته کولو دوام ورکړو او وګورو چی زمونږ کارکوونکې په ۲۰۱۵ کال کښی څومره نور مثبت بدلونه رامنځته کولای شي.

۲۰۱۴ کال هم د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسه کښی د یوه ادارې په توګه د د څارنې او ارزونې او جنډر په برخه کښې د نوو پالیسیو او سیستمونو په مټ د پام وړ پرمختګ کړی دی او یو شمیر نوي او ډیر اغیزمن کارکونکي په دندو ګمارلي دي. زمونږ د سترو پرمختګونو او حوصلې او فداکاریو له برکته چی زه یی په خپلې ډلې ، د مدنی ټولنې ګډونوالو او تمویل کوونکو کښی ګورم ، زه ډاډه یم چی په ۲۰۱۵ کال کښې به حتی نوري ډیری بریاویې زمونږ د پروژو او پروګرامونو او د افغانستان د راتلونکي لپاره شونې وې. مونږ یو شمیر په زړه پورې نوښتونه پلان کړي دي ، زمونږ د میرمنو ولایتي شبکو اود روڼتیا او حساب ورکولو افغاني یووالي پلیټ فارمونو له لارې د جاري کارونو ، د سولې په ملي خبرو اترو کښې د میرمنو د ګډون فعالیتونو ته وده ورکول ، نوښتګره نوې څیړنې ، فلم جوړول ، او له دولت سره نورې همکارۍ او د دولتي فعالینو لپاره په ټولو سطحو د زده کړې برابرول شامل دي. زه تاسی ته بلنه درکوم چې زمونږ د غوښتنې ملاتړ وکړئ. هر سړی چی رضاکار وي او له مونږ سره یو ځای کیږي او د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسې په اړه زده کړه کوي او د هغوی فعالیتونه چې زمونږ د رسالت سره مرسته کوي ، او زمونږ د رسالت سره هر ډول همکاري د هغو خلکو د غږ د پروته کولو سره مرسته کوي چې ډیر محروم خلک دي او د افغانستان په لرې پرتو سیمو کښی د یو چا ژوند کښې ښه والی رامنځته کوي.



**نرګس نهان**

# د سولې او دموکراسۍ لپاره د یو شانوالي د موسسې په اړه معلومات

د سولې او ډموکراسۍ لپاره یو شانوالي موسسه یوه غیرانتفاعی ، نا دولتی موسسه ده چې په افغاني ټولنه کښې او همدارنګه د پالیسیو له نظره د میرمنو او ځوانانو پیاوړتیا لپاره کښې کار کوي.د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسه د ۲۰۱۰ کال په لومړیو کښې د میرمن نرګس نهان له خوا تاسیس شوې ده چی د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسې مشره ده. د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسې زیار ګالي تر څو د میرمنو او ځوانانو وړتیا لوړه کړي او په برمختیایي کارونو کښې د خپلو غوښتنو ، سولې رامنځته کولو ، او په هیواد کښې د دموکراتیکو بهیرونو لپاره مخکښه ځیره شی. پر دې سربیره ، د EPD مقصد دادی چې په براخه کچه میرمنې او ځوانان په مخکې پرتو ننګونو او هغو بې ثباتیو چې افغانستان ور سره مخامخ دی ، د غلبې موندولو لپاره کار و کړي. EPD د میرمنو او ځوانانو لپاره یو پلیټ فورم جوړوي تر څو ځوانان لاسونه سره یو ، یوه شبکه تاسیس ، د باړو او اعتماد فضا رامنځته او په ګډه هڅه وکړي چې افغانستان په یو داسې دموکراتیک هیواد بدل کړي ، چې له هر ډول تاو تریخوالي او تبعیض څخه پاک وي.

<u>دیدګاه (ارمان):</u> افغانستان باید یو سوله ایز ، ښیرازه او دموکراتیک دولت وي چې ټول افغانان پرته د هر ډول تبعیض څخه د خپلو حقوقو څخه خوند واخلی.

**ماموریت (رسالت):** په ټولنه کښې د سولې او ډموکراسۍ لپاره یو شانوالي موسسې رسالت دا دی چې میرمنې او ځوانان په ټولنیزه او پالیسیو په کچه د یووالي د رامنځته کولو او شبکو جوړولو او د بشر حقونو ته وده ورکولو ، سولې او ښه حکومتداری لپاره ځواکمن کړي. د سولې او ډموکراسۍ لپاره د یو شانوالي موسسه په لاندی درې ستراتیژیکو برخو باندی تمرکز کوي.

**سوله او امنیت:** د سولې او ډموکراسۍ لپاره یو شانوالي موسسه زیار باسي تر څو د افغانستان خلک په ځانګړې توګه میرمنې او ځوانان وهڅوی او زرورتیا پکښې پیدا کړي تر څو د سولې په را منځته کولو ، د شخړو د مخنیوي ، د شخړو د حل او فصل ، او په دواړو ملي او محلي سطحو د منځګړیتوب لپاره ګډون وکړي او په هغو کښې بوخت شي.

**ښه حکومتداري:** د ښه حکومت داري په لاره کښې د ونډې آداء کولو په موخه ، د سولې ډموکراسۍ لپاره یو شانوالي موسسه د دولتي ادارو په منځ کښې د منابعو او پالیسیو له نظره روڼتیا او حساب ورکول زیاتوي. د سولې او ډموکراسۍ لپاره یو شانوالي موسسه د روزنې او د بودجې د پلان جوړونې او تطبیق او عامه خدماتو د وړاندې کولو د څارنې او د انکشافي پروژو په تطبیق کښې ، د هغوی د بوختیا له لارې ټولنې ځواکمنې کوي او غواړي چې حکومتي اداري د خپلو خدماتو د کیفیت په اړه ځواب ویلو ته تیارې کړي.

**د بشرحقوق:** سوله او ښه حکومتوالی د بشر د حقونو د درناوی په اړه د داړ تر لاسه کولو لپاره مهم کار دی. د سولې او ډموکراسۍ لپاره یو شانوالي موسسه پر خپلو حقوقو ولاړو پروګرامونو د ایجاد او تطبیق یو طرحه باندې کار کوي چې د افغانستان ټول خلک پیاوړی کوی ، او د هغوی پر بنسټ پروګرامونو ته د ودې او اجراء په موخه لاره هواروي چې هغه د افغانستان ټولو خلکو ته دا ځواک ورکوي چې خپل حقوق و پیژني او د خپلو ټولو حقونو څخه د عمر ، توکم ، جنسیت او یا نورو عواملو د پام کښې نیولو څخه پرته برخمن شي. د سولې او ډموکراسۍ لپاره یو شانوالي موسسه په دی باور ده چې د میرمنو حقوق د بشر حقوق دي او د افغان میرمنو ځواکمن کول د سولې اوډموکراسۍ لپاره یو شانوالي د موسسې د رسالت یو مهم عنصر دی.

**روش:** د سولې او ډموکراسۍ لپاره یو شانوالي موسسه د سولې رامنځته کولو ، ښه حکومتدارۍ او بشري حقوقو د هڅو په برخه کښې د یوې هر اړخیزې طرحې څخه کار اخلي. د سولې ډموکراسۍ لپاره یو شانوالي موسسه په محلي کچه ټولنې په حرکت راولي ، د پلویانو د پیدا کولو لپاره فعالیتونه تر سره کوي ، او داسې پلیټ فورمونه جوړوي چې هلته خلک را ټولیدای او د روڼتیا او حساب ورکولو او له دولت څخه د ښه خدماتو د وړاندې کولو غوښتنه کولای شي. د سولې او ډموکراسۍ لپاره یو شانوالي موسسه په دې ویاړي چې نوموړې موسسه نه یوازې دا چې پر میرمنو او ځوانانو تمرکز کوي بلکه هغه داسې یوه موسسه ده چې د میرمنو او ځوانانو له خوا رهبري کیږي ، او ټینګار کوي چې د هغې ۵۰ سلنه کارکونکې باید میرمنې او ۶۰ سلنه یې باید ځوانان وي. EPD همدارنګه د ټولو میرمنو د مشرتابه د یو جوړښت حمایت هم کوي. په هر حال ، په بشپړه توګه د میرمنو پر موضوعاتو د تمرکز پر ځای ، EPD په دې یادو شوو ساحو کښې کار کوي ، لکه د بیلګې په توګه د سولې بهیر ، ټاکنې ، یا د فساد ضد موضوعات ، چې په هغو کښې د میرمنو او ځوانانو اړتیاو او نظریاتو ته باید ځانګړې پاملرنه شوې وي.

# د ۲۰۱۴ کال د پرمختګ په اړه تازه معلومات

په ۲۰۱۴ کال کښې ، د سولې او دموکراسۍ لپاره یوشانوالي د پلیټ فارمونو پر مټ ستر پرمختګ کړی دی. مونږ په ۲۰۱۰ کال کښې د دې ادارې د بنسټ ایښودلو څخه را په دیخوا مخ پر وده روان یو او همدارنګه په یو شمیر په زړه پورو نوو پروژو کار کوو او زمونږ دا همکاري ۲۰۱۵ کال ته ور داخلیږي. د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسې په یو شمیر سیمو کښې دولتی چارواکو ، افغان میرمنو او ځوانانو لپاره د ورتیا د لوړولو او روزنې د برابرولو په برخه کښې ګڼ شمیر کارونه تر سره کړي دي. د بیلګی په ډول د ښه حکومتداری ، د فساد پر وړاندی مبارزې ، د بشر حقوق ، ټاکنو او د جنډر د یوشانوالي وده او پرمختګ او په مهمو ملي بهیرونو کښی د میرمنو ګډون.

په ۲۰۱۴ کال کښی ، د سولې او ډموکراسۍ لپاره یوشانوالي موسسې د ملي بودجې او د بودجې د پلانونو جوړونې او تطبیق په برخه کښې د ملاتړ د پیدا کولو او د لا ښه خدماتو دعرضه کولو په برخه کښې د مدني ټولنې سازمانو نو مشري کړې ده. د سولې او ډموکراسۍ لپاره یوشانوالي موسسې د مدني ټولنو د سازمانونو سره یو ځای د ۱۳۹۴ د تسویدي بودجې یوه خپلواکه بیا کتنه تر سره کړه او په ویاړ سره ویلی شو چې د بودجې د کلنۍ اروزنې لاسته راغلې نظریات او وړاندیزونه د ۱۳۹۴ کال په بودجې او حقیقي تخصیصونو او ټاکل شو اهدافو او شاخصونو کښې ځای ورکول کیږي ، او همدارنګه د ۱۳۹۲ کال د وروستیو لګښتونو یوه هر اړخیزه بیا کتنه کوي او غواړي د کلنۍ بودجې د ارزیابی په شکل اعلان کړي ، چې زیاته کچه د ۱۳۹۴ کال بودجی او د بودجې تحلیل او واقعي تخصیص کلیدي اهداف په ګوته کوي او همدارنګه د ۱۳۹۲ کال وروستیو حسابونو باندې د پوهیدلو بیا کتنه ، په دغه راپور کښې به په ۲۰۱۵ کال کښې وروسته له دی چې وروستی بودجه و منل شي ، ژمنه تر سره شي. د سولې او ډموکراسۍ لپاره یوشانوالي موسسې د بودجې په پلان جوړونه او اجرائیوي او همدارنګه د دولتې تدارکاتو او ګمارنې بهیرونو کښې د فساد د پیښو په اړه پلټنې بشپړی کړې دي. دا راپور به کله چې د ۲۰۱۵ کال بودجه منظور شي ، ترتیب کړای شي. EPD د بودجې د پلان جوړونې او تطبیق د بهیرونو ، او همدارنګه د دولت د تدارکاتو او په کار ګمارلو په بهیرونو کښې د رشوت د پیښو په اړه یوه څیړنه بشپړه کړې.

د سولې او ډموکراسۍ لپاره یوشانوالي موسسې خپلو پروګرامونو او پلیټ فارمونو جوړونې ته ادامه ورکړې ده. او یادی موسسې د حساب او روڼتیا لپاره افغانی ائتلافونو جوړونې ته د درې نویو شبکو سره چې په ۲۰۱۴ کال کښی یې شاوخوا ۲۰۰ نوې غړې لرل ادامه ورکړي ده. د سولې او ډموکراسۍ لپاره یوشانوالي موسسې د میرمنو ولایتی شبکې په هره کچه د ملاتړ د تر لاسه کولو په برخه کښې ، د محلي ټولنو څخه نیولې بیا په ملي سطحه ابتکارونو پورې فعالې وې ، تر څو د سولې او انتقال ، په سیاسي بهیر او ټاکنو په بهیرونو کښې د میرمنو د ګډون په اړه عامه پوهاوي لوړ او د میرمنو پر وړاندې د تاو تریخوالي په وړاندې مبارزه کښې د میرمنوګډون باوري کړي. د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسې د میرمنو د ولایتی شبکو د غړو پواسطه د میرمنو د نظریاتو د راټولولو ، راپورونو او رسالو د خپرولو له لارې د میرمنو د غږ په پورته کولو کښې د هغو مسئلو په اړه چې د میرمنو له نظره افغانستان ور سره مخامخ دی ، ډیر کار کړی دی. ۲۰۱۴ کال کښې د امنیت ، سولې ، ټاکنو او مدني ګډون په اړه خپرونې کړې دي. مونږ هم ویاړو چې د افغانستان د جنډر د یوشانوالي راپور خپروو چې هرکال به د سولې او دموکراسۍ لپاره یوشانوالي موسسې د میرمنو د ولایتی شبکې له لارې صورت نیسي او دا یو کلن راپور به د څارنې د یوې وسیلې په توګه و کاروي چې هغه به مدني ټولنې ، افغان دولت ، او نړیوالې ټولنې ته دا توان ورکړي چې دولت په خپلو ژمنو کښې د افغانستان د میرمنو او جنډر یو شانوالي لپاره ځان مسئول وګڼی. د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسې لومړنی جنډر یو شانوالي د راپور د معلوماتو مجموعه په ۲۰۱۴ کال کښې تیاره او د ۲۰۱۵ کال د میرمنو د نړوالي ورځې په مناسبت به نشر شی.

د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسه غواړي چې خپل ملګرتوب د ملي فعالینو ، او د مالیې ، عامې روغتیا او ښوونې او روزنې ، د میرمنو ، وزارت سره د څیړنو او ابتکارونو په خاطر همکاري رامنځته او د مالیې ، عامې روغتیا ، ښونې ، د میرمنو چارو ، عدلیې وزارتونو او د سولې عالی شورا سره خپل مشارکت جوړونې ته ادامه ورکړه. د دی فعال ګډون له لارې ، د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسه را وړاندې ته شوې چې د ملي او نړیوالو ګډونوالو پراخی شبکې ته ، په محلي کچه ، مدني ټولنې او دولت له لورې وده ورکړی چې په ۲۰۱۵ کال او له هغه څخه وروسته د پلویانو پیدا کولو پلیټ فارمونو پراخولو ته ادامه ورکوي.

# روزنه او وړتیا لوړول

## په سوله کښې د میرمنو د ګډون په اړه روزنه او فلم ښودنه

د سولې او ډموکراسۍ لپاره یوشانوالي موسسې په ۲۰۱۴ کال کښې د شخړو د حل و فصل او سولې میکانیزمونو په اړه د مربیانو د روزلو یو پنځه ورځنی ورکشاپ جوړ کړ. دی ورکشاپ ۱۹ ګډونوال درلودل چې له هغې جملې څخه ۹ ولایتی همغږي کونکي ، د میرمنو د ولایتي شبکې ۶ غړی چې د ننګرهار ، کندز ، هرات ، فاریاب ، بامیان او کابل او ۴ تنه ګډونوالو د مرکزی دفتر څخه ګډون کړی وه. د دی ورکشاپ موخه دا وه چې د شخړو په حل او فصل او سولې رامنځته کولو کښې د ګډونوالو وړتیا بهتره کړي. له دې ورکشاپ څخه وروسته ، د سولې او ډموکراسۍ لپاره یوشانوالي موسسې ولایتی همکارانو او د میرمنو د ولایتی شبکو غړو چې په ورکشاپ کښې یې روزنه تر لاسه کړې وه ، په ۷ ولایتونو کښې چیرته د میرمنو ولایتي شبکې فعالی دي د سولې رامنځته کولو ورکشاپونه ترسره کړل. دا روزنی په ۲۰۱۴ کال کښې په دوه پړاونو کښې تر سره شوي د هغه څه په کارولو له لارې چې دوی زده کړی دی ، دا میرمنی د شخړو قضیی تشخیصوی چې هغوی باید په بیا د هغو د حل لپاره کار وکړي ، او په فعال توګه د هغوی په ټولنو کښې د سولې را منځته کولو او شخړو حلولو کښې برخه واخلی. دا روزنه د ۲۰۱۴ کال په دوران کښې په دوه پړاونو کښې تر سره شوه. او هغه څه چې دوی زده کړي وو ، دا میرمنې لانجمنې قضیې په ګوته کوي چې دوی باید و هغو ته د حل لاره پیدا کړي ، او په فعاله توګه په خپله ټولنه کښې د سولې په رامنځته کولو او شخړو هوارولو کښې ونډه واخلي.

د سولې او ډموکراسۍ لپاره یوشانوالي موسسي د **"شیطان ته دعا وکړئ چی بیرته دوزخ ته لاړ شي"** په نامه یو مستند فلم ننداري ته وړاندې کړ. دغه مستند پخوانې فلم د زړه ورو او آزادو میرمنو د پام وړ کیسه ده چی هغوی را ټولې شوې وې چی وینه تویونکې جګړه پای ته ورسوي او خپل هیواد ته سوله راوړي. په زرګونو میرمنو یعنې زیاتره میندو ، نیاګانو ، تریندو ، او لوڼو دواړو عیسویانو او مسلمانانو د سولې لپاره دعا وکړه او وروسته یی یوه آرامه مظاهره د جمهوری ریاست ماڼۍ څخه د باندی تر سره کړه چی د هیواد د کورنۍ جګړې د حل غوښتنه وکړي. د هغوی عملونه او اقدامات د سولې د خبرو په جریان کښې د یوی هوکړې د رامنځته کولو په اړه یو جدي عنصر وه. د فدا کارۍ ، یووالي او روښتیا یوه کیسه ، **"شیطان ته دعا وکړئ چی بیرته دوزخ ته لاړ شي"** د لایبریا د میرمنو د واک او ټینګار احترام او درناوی کوي. الهام ورکول ، ارزښت ورکول او تر هرڅه زیات عمومې هڅونه ، یو اړین ثبوت دی چې په محلي توګه فعاله ګډون د ملتونو برخلیک او تاریخ بدلولي شي. په ۲۰۱۴ کال کښی د سولې او ډموکراسۍ لپاره یوشانوالي موسسې دا مستند فلم په دري او پښتو ژبه و ژباړه او ۱۰۰۰۰ افغان سړیو ، میرمنو او ځوانانو ته یې په ښوونځیو ، پوهنتونو او په ټولنو کښی د افغانستان په ۷ ولایتونو کښې ننداړې ته وړاندې کړ.



## د فساد پر وړاندې د مبارزې په اړه ټولنو ته روزنه او په فلم په پرده ښکاره کول

د سولې او ډموکراسۍ لپاره یوشانوالي موسسې د روڼتیا او حساب ورکولو افغاني یووالی ۱۹۹ نویو غړو په کابل ولایت کښې د سولې او شخړو د حل او فصل او همدارنګه په ټولنیزه سطحه د څارنې او ښه حکومتدارۍ په اړه دوه ورځنۍ روزنه ترلاسه کړه. چې د ګډونوالو ۴۰ سلنه میرمنې او ۶۰ سلنه ځوانان وو. د روڼتیا او حساب ورکولو افغاني یووالې ۱۲۵ غړو په ننګرهار ، هرات ، بامیانو او کابل ولایتونو کښې د فساد او په ټولنیز بنسټ د څارنې په اړه روزنه تر لاسه کړه چې د دې روزنو ګډونوال د میرمنو ، ځوانانو او د روڼتیا او حسابورکولو افغاني یووالی او د محلې کچې فعالین هم شامل وو.

د سولې او ډموکراسۍ لپاره یوشانوالي موسسې هم مستند فلمونه په پرده وښودل ، **"دا زمونږ پیسې دی، دا چیرته تللې دي"؟** د کښنیا د پارلمان غړي تقریبا په کال کښې یو میلیون ډالر لاس ته راوړي چې په انکشافی پروژو باندی یې په خپلو ټاکنیزو حوزو کښې د یوی طرحې له لارې چې د ټاکنیزې حوزی د انکشافی بودجی په نامه یادیږی ، و لګوي. د پارلمان غړي کولای شي چې دا پیسی د یوې موثرې څارنې پرته و کاروي. له همدې امله د ټاکنیزې حوزی پیسې د بی نظمۍ او فساد د آفت قرباني کیږي. دا مستند فلم د مدني ټولنې د سازمان ځواکمنه کېسه وړاندی کوي. MUHURI چې یوې محلي ټولنی سره د ممباسا د بې وزلو اوسیدونکو په یوه ناپاکه سیمه کښې مرسته کوي ، ترڅو د خپلې محلي ټاکنیزې حوزی د پیسو د لګښت څیړنه وکړي او د هغوی څخه د حساب اخیستلو چارې په خپله غاړه واخلي. په ۲۰۱۴ کال کښی دا مستند فلم د ۴۰۰۰ څخه زیاتو افغان سړیو ، میرمنو او ځوانانو ته په ۴ ولایتونو کښی د روښتیا او حساب ورکولو افغاني یووالې په دفترونو کښی او هم شاوخوا ۶۰۰ کسانو ته د روښتیا او حساب ورکولو افغاني یووالی د ۳ نویو شبکو لخوا په کابل ولایت کښې په پرده و ښودل شو.

## د جنډر ستونزو ته ځواب ویونکې بودجې په اړه د افغانستان دولت د روزنې او لارښود کتاب

د دې پروژې موخه د ملګرو ملتو پرمختیایي پروګرام د جنډر یوشانوالې پروژې (GEP) د عمومي اهدافو لاسته راوړلو سره مرسته ده چې د میرمنو چارو او مالیی وزارت سره په ګډه د عمومي اهدافو لاس ته راوړلو لپاره کار کوي. د جنډر یوشانوالی پروژه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت او په افغانستان کی د ملګرو ملتو پرمختیایي پروګرام تر منځ د ګډ کار یوه وسیله ده ، چې موخه یې د جنډر اصلی مسیر نمونو ته پراختیا ورکول او د حکومتي وزارتونو او موسساتو ظرفیت پیاوړي کول دي. د GRB روزنیزې ښوونې او لارښوونې کتاب د افغانستان اسلامی جمهوریت دولت ، د ملګرو ملتو پرمختیایي پروګرام او د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسې په منځ کی د شوو همکاریو او هڅو پایله ده. د مالیی ، میرمنو چارو وزارتونو او څو سکتورونو له لورې زیات ملاتړ او همکاري تر لاسه شوی ده چې د میرمنو ستونزو ته ځواب ویونکې بودجی په ازمایښتی پروګرام کی ګډ کار کوي.

د جنډر ستونزو ته ځواب ویونکي بودجه د بودجې د بهیر په ټولو پړاونو کښی د جنډر لپاره د اهمیت لرونکو موضوعاتو د شاملولو یوه وسیله ده چې دا لړ تر لره د دواړو میرمنو او سړیو بیلا بیلې اړتیاوې او لمړیتوبونه د جنډر د انحصار پرته په نظر کی نیسي. سړي او میرمنې زیاتره وختونه بیلا بیل لمړیتوبونه ، ستونزی او اړتیاوی لري په داسې حال کښې چې دولت خدمات وړاندې کوي ، عامه سرچینې تخصیص کوي همدارنګه پکار ده چې د هیواد د سترو اقتصادي پالیسیو په جوړولو کښې هغه باید له نظره و نه غورځول شي. د جنډر ستونزو ته ځواب ورکونکي بودجه یو داسې روش دی چې په هغې کښې په خلکو باندی تمرکز شوی دی چې ښه پلانونه برابروی او همدارنګه د عامه لګښتونو لپاره ډیره ګټوره اختصاص شوې بودجه جوړوي. د جنډر ستونزو ته ځواب ورکونکي بودجه دا ډاډ ورکوي چې بودجه د جنډر ستونزو ته پاملرنه کوي او د هیڅ یو جنس پلوۍ نه ده چې هدف یې د جنډر یو شانوالي ته په فعاله توګه وده ورکول دي.

په دی پروژه کښې ، د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسې د روزونکو لپاره روزنیز لارښود او د افغانستان دولت لپاره د میرمنو ستونزو ته ځواب ویونکې بودجې ښوونیز کتاب ترتیب شوی دی. د مالیی ، میرمنو چارو وزارتونه او د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي د موسسې د روزونکو یوه څلور ورځنۍ روزنه په هندوستان کی ترلاسه کړه او د دولتی چارواکو لپاره ربښتینی روزنه د ښوونې او روزنې ، د کرنې ، مالداری او اوبو لګولو ، د کلیو پراختیا ، د کار ، شهیدانو او معلولینو ، عامی روغتیا ، او لوړو زده کړو وزارتونو له خوا د ۵ ورځو لپاره په کابل کښې ور ته روزنه ترسره شوه.

دا روزنیز لارښود د روزونکو لپار ډیزاین او تیار شوی دی چی د جنډر ستونزو ته د ځواب ویونکې بودجې په اړه د افغان دولتی چارواکو روزلو لپاره ورځخه کار اخستل کیږی. دا روزنیز لارښود د جنډر او جنډر یوشانوالی له نظره په ۵ برخو ویشل شوی دی ، د افغانستان د ملی بودجې بهیر ، د جنډر ستونزو ته د ځواب ویونکې بودجه (د جنډر ستونزو ته د ځواب ویونکې بودجې په اړه د افغانستان تجربه ، د جنډر ستونزو ته د ځواب ویونکې بودجې پنځمه پړاوونه ، د جنډر ستونزو ته ځواب ویونکې بودجې لپاره د وسیلی په توګه کار کوي ، د جنډر ستونزو ته ځواب ویونکې بودجې په وړاندې ګواښونه او محدودیتونو او په بیلا بیلو سطحو د هغه سره د دولت بلدتیا)، د جنډر اړوند موضوعات پام کښې نیونکي شاخصونه ، او د جنډر ستونزو ته ځواب ویونکې نړیوالې تجربې او یو شمیر د زده کړی وړ متقابله فعالیتونه په کښی شامل دي او هم د جنډر یو شانوالی او جنډر ستونزو ته ځواب ویلو په اړه یو لړ لنډ مستند فلمونه چی په دري ژبه وړوکې عنوان ورکړل شوی او ژباړل شوي دي.

د جنډر ستونزو ته ځواب ویونکي بودجې ښوونېز کتاب په افغانستان کی د جنډر ستونزو ته د ځواب ویونکي بودجې د تمرین لپاره د مشورتی لارښوونې په موخه ترتیب شوی دی ، دا ښوونېز کتاب د هغو کسانو د استفادي لپاره چی د جنډر ستونزو ته د ځواب ویونکي بودجې د تطبیق مسئولیت لري ، په ځانګړې توګه هغه دولتی چارواکې چی د بودجې په پلان جوړونې ، تطبیق او ارزوني بهیر کښې دخیل دي طرح او ډیزاین شوی دی ، آما د تطبیقونکو او فعالینو لپاره هم لکه د بیلګی په توګه مدنی ټولنه ، پارلمان ، نړیوال تمویلونکو او انکشافی کارونو کښې بوختو خلکو لپاره ترڅو وپوهیږي چی د جنډر ستونزو ته ځواب ویونکي بودجه څومره موثره په افغانستان کی ملاتړ کیدای او تطبیقیدلای شي.

دا ښوونېز کتاب د جنډر ستونزو ته د ځواب ویونکي بودجې د پوهاوې او تجربی په موخه چی هر وګړی ورته په هره کچه لاسرسی و لري ډیزاین او طرح شوی دی. دا کتاب د هغو کسانو لپاره چی د جنډر ستونزو ته ځواب ویونکې بودجې سره نوی اشنا کیږي یوه مفکوره او اساسی پوهاوی ورکوي ، او هم د هغو کسانو لپاره چی د جنډر او جنډر ستونزو ته ځواب ویونکې بودجې په اړه تحصیل لرونکي او تجربه لرونکي دي ډیر ژوره او پرمختللی وسیله ده. که څه هم تاسو د بودجې تجربه یا پوهه لرئ ، د جنډر یا د جنډر موضوعاتو سره نوی بلدیدونکي لپاره ، دا ښوونېز کتاب ستا لپاره هم دی. که څه هم تاسو کړنلاری جوړوئ ، څارنه او ارزونه ترسره کوئ ، یو پروګرام طرح کوئ ، یا بودجه سمبالوئ دا کتاب ستاسو لپاره دی.

که څه هم تاسو په یوه کلي کښې د ۲۰۰ کورنیو لپاره د انکشافی پروژی پلان ترتیبوئ ، یا د ټول وزارت لپاره د بودجې د کلنی راپور پلان جوړوئ ، دا کتاب ستاسو لپاره دی. دا کتاب به د دولت په هره کچه دنده تر سره کونکو لپاره د بودجې د کړنلارو او تمرینونو کښې د جنډر موضوعات ته د پام کولو په خاطر د رهنمایی او لارښوونې په موخه په کار راشی.




# عدالت ته د میرمنو ځواکمن لاسرسې

په ۲۰۱۴ کال کښې ، د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسې د کلتوري حساسو روشونو له لارې عدالت ته د میرمنو د لاسرسي د ودې او پرمختګ لپاره د یوې نوې پروژې په تطبیق کولو پیل وکړ. دا پروژه په ټول افغانستان کی تطبیقیږي او د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسه اوس مهال په پنجشیر او پروان ولایتونو کښې پروژې تطبیقوي. د دې پروژې عمومي هدف د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالی کمولو بهیر سره مرسته کول او د رسمي او غیر رسمي عدلي سکتورونو د ځواکمنتیا له لارې د میرمنو شخصي امنیت ته همیشنۍ پاملرنه او په اسلامی کاري چوکاټ کښې د میرمنو د حقوقو د عامه پوهاوي لوړول دي.

د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسه د میرمنو د چارو ریاست ، او د څارنوالی دفتر د میرمنو پر وړاندې تاوتریخوالی قضیو ته په هر ولایت کی تخنیکی مرسته رسوي. مونږ هم په هر ولایت کی د دوه کورنیو ستونزو ته د ځواب ویلو څانګی او ولسوالیو له لارې ښځینه او نارینو ټولنېزو خبرو اترو ډلې تاسیس کړي دي. په دی پروژه کښې ، د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسې په اسلام کښې د میرمنو د حقوقو په اړه ، د میرمنو پر وړاندې تاوتریخوالی مخنیویي قانون او د هلکانو او نجونو ښوونځیو تحمل او زغم ، رسمي عدالتي کارکونکي ، د پوهنتون استادان ، او زده کوونکي ، دیني عالمان او د ټولنېزو خبرو اترو ډلو او کورنۍ ستونزو ته د ځواب ویلو څانګی غړو په اړه روزنې برابروي.

څرنګه چې د سږکال یوې برخه کښې میرمنو ته د عدالت ته د لاسرسي د زیاتولو اوږد مهاله پروژه د تاوتریخوالی له امله زیانمنه شوه ، د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسې څو ورکشاپونه او روزنېز پروګرامونه په پروان او پنجشیر ولایتونو کی د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالی له منځه وړلو په اړه ترتیب کړي. د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالی د مخنیویي قانون د خطیبانو ، ښځینه ټولنېزو خبرو اترو ډلې ترتیبونکې او نارینو ټولنېزو خبرو اترو ډلې ترتیبونکي د یوه هدف لپاره د ټولنې پوهاوی او بوختیا زیاته کړې. د هغو موخه د میرمنو لپاره د ور پیښو ګواښونو په اړه د ټولنې د پوهاوي زیاتول وو چې عدالت ته لاسرسی ولري. د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیویي قانون تر سیوري لاندی د میرمنو حقوق او په عام ژوند کښې د میرمنو د ګډون ارزښت ، د دی موضوعاتو په اړه د خطیبانو تیارول ځکه چې دوی د محلی خلکو لپاره د معلوماتو د یوی اړینی سرچېني حیثیت لري. سربیره پردې ، د میرمنو او نارینو روزونکو د روزنې غونډې د ښځینه او نارینه ټولنېز خبرو اترو ډلو ترتیب کونکو له لورې چې د میرمنو پر وړاندې تاوتریخوالی د مخنیویي قانون لکه څنګه چې د خطیب روزنې په اړه دي ، همدا ډول ولسوالۍ تر پوښښ لاندی نیسي. د روزونکو د روزنې موخه د ټولنې د مخورو غړو روزل وو تر څو د ټولنېز خبرو اترو ډلو غړي په خپلو اړوند ټولنو کښې و روزي.



راتلونکی روزنېزې غونډې به ور ته فعالیتونه او همدارنګه د ګرځنده روزنکو غوره کول او روزنه تر سره کړي او د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالی د مخنیوي د قانون په اړه د ګرځنده روزونکو روزنه او په اسلام کښې د میرمنو حقوق چې د میرمنو د حقوقو په اړه به زده کوونکو ته په ښوونځیو او مدرسو کښې د ښوونکو په شان لکچرونه ورکړي. د دی پروژې موخه د داسې ډول افغان وګړو ، دیني عالمانو ، با نفوذو ټولنو غړو او ښوونکو روزل دي ترڅو لاندې نخښه شویو ولسوالیو کی هغی لازم اندازه نفوس ته د امکان تر حده پورې رسیدګی و شي.

# د ملاتړ او پوهاوي لوړوالی

## د میرمنو او ټاکنو ملي کنفرانس

د افغان میرمنو د پیاوړتیا یو اړینه برخه د افغانستان په سیاسی بهیرونو کښې د هغوی ګډون په شمول ټول مدني بوختیا ته وده ور کول دي. د ۲۰۱۴ کال په فبروری میاشت کښې ، د سولې او دیموکراسۍ لپاره د پوشانوالي موسسې د ۲۰۱۴ کال د اپریل د میاشتی ولسمشریزو ټاکنو په اړه د افغان میرمنو سره یو ملی بحث تر سره کړ چې د ۳۴ ولایتونو څخه میرمنو په دې کنفرانس کښې ګډون کړی وه. ښځینه مشرانو ، چې د عامې روغتیا وزارت ، د میرمنو چارو وزارت ، د بشرحقونو د کمیسیون مشره ، د افغاني سری میاشتې مشرې د خپلو کړنو او ننګونو کیسی شریکې کړې او په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کښې یې د افغان میرمنو د پراخه او فعاله ګډون هڅونه وکړه.

د کنفرانس په دوهمه ورځ د افغان میرمنو او ټاکنیزو ادارو او د ولسمشریزو نوماندانو په منځ کی یو ناسته ترتیب کړی شوه. د ګردي میز غړو چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مشر ، د ټاکنو ته د ګواښونو د ارزونې د کمیسون مشر ، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي ځوابونه او د رښو او با امنه ټاکنو ترسره کولو په اړه ډاډ ورکړ. له غرمې وروسته ، د ولسمشری نوماندانو ښاغلی قیوم کرزي ، ډاکټر اشرف غنی احمدزي ، ښاغلي داوود سلطان زوی ، ښاغلي قطب الدین هلال او مرستیالانو میرمن صفیي صدیقي (چې د ډاکټر هدایت امین ارسلا مرستیاله وه)، ښاغلی سردار نعیم ، میرمنې حبیبې سرابي (د ښاغلي زلمي رسول) مرستیالې ګډون کړی وه او په افغانستان کښې یې د میرمنو په اړه د پوښتنو او ځوابونو په شکل خپلی بیانیې ورکړې.

د کنفرانس په وروستیو شیبو کښې ، ګډونوالو بیلابیلو شاملو کارکونکو د مدني ټولنو موسساتو ، دیني علماو او د ټولنې مشرانو ، ځوانانو ، رسنیو ، د ټاکنو خپلواک کمیسیون ، د افغانستان دولت ، ولسمشریزو او ولایتی شوراګانو نوماندانو ، وسلوالو مخالفو ډلو ، ګاونډیو هیوادونو او نړیوالې ټولنې ته د بریالیو ولسمشریزو ټاکنو د ملاتړ په موخه د سپارښتنو یوه اعلامیه طرح کړه.

دې کنفرانس د میرمنو مدني ګډون په اړه شمالی دیالوګ او سهیلی روزنې او مشاورت چې د افغانستان ۲۳ ولایتونو څخه ۸۰ میرمنو پکښی ګډون کړی وه ، سره مل وه. د مشاورت موخه د میرمنو د نظرونو په اړه بحث کول او پوهیدل وه د سولی بهیر او ټاکنو په اړه د شمال او جنوب څخه او د زدکړل شویو مهمو درسونو په ګوته کول وو چې باید پرمخ یو وړل شي.





## جندر ستونزو ته ځواب ویونکې بودجې په اړه د هندي پالیسي جوړوونکو سره کتنه

د روزونکو څلور ورځنۍ روزنه په نوی ډهلې کی د مالیي وزارت ۶ چارواکو لپاره ترتیب شوې وه او د میرمنو چارو وزارت څخه د یو تن چارواکی په ګډون چې د میرمنو ستونزو ته ځواب ویونکې بودجې د پوهاوي د پراختیا په موخه چې په خپلو وزارتونو او پروګرامونو کښې د میرمنو ستونزو ته ځواب ویونکې بودجه ترتیب کړې ده. د روزنې غونډې د ۳ هندي پروفیسورانو او د سولې او دموکراسۍ لپاره د یوشانوالي موسسې اجرائیوي مشرې له خوا ترسره شوي او د څلورو هندی وزارتونو ، یوې دولتي موسسې ، یوی نا دولتي موسسې او ملګرو ملتونو د میرمنو کارکونکو سره غونډې شاملی وې ترڅو د میرمنو ستونزو ته ځواب ویونکې بودجې تطبیق ته په کتنې سره د هغوی د تجربو څخه زده کړه وکړي.

د اکتوبر په ۲۷ نیټه ، یوه ساوحوي لیدنه ترتیب شوې وه ترڅو د نا دولتي موسسې سره لیدنه تر سره وکړي چې د بودجی او حکومتوالۍ د مرکز په نامه یادیږی ، چې له هغه وروسته ګډونوالو د مالیي وزارت د بودجې د مامور او د میرمنو چارو وزارت او ماشوم د ودې د پلاوي سره ملاقات وکړ. یوه ورځ وروسته ، ګډونوالو د میرمنو لپاره د ملګرو ملتونو د یوې برنامی مامور سره د سهار له لخوا لیدنه وکړه ، د دولتي موسسو د ملي مالیي او عامه پالیسیو انستیتوت څخه لیدنه تر سره کړه او د کرنې او د کلیو د پراختیا وزارتونو پلاوو سره یې خبرې وکړې.

د وزارتونو سره د غونډو موخه ګډونوالو ته د میرمنو ستونزو ته ځواب ویونکې بودجې په اړه د عملي زده کړې ورکول او د تګلارو او د پرمختګ په پروګرامونو ، ننګونو او د بریالیتوب لارو چارو کښی د میرمنو ستونزو ته ځواب ویونکې بودجې د ترتیبولو په برخه کښی د هندوستان دولت د تجربو په اړه د پوهاوي ورکول وو. د موسساتو څخه لیدنو هم ګډونوال پوه کړي دي چې څنګه مدني ټولنې د جندر اصلی مسیر ته برابرولو په برخه کښې مهم رول لوبولی دی او دا ډاډ ورکوي چې د جندر په تړاو د هغوی غږونه د دولت له خوا اوریدل کیږي.

په دی سربیره ، د ښاغلی اوتایا کومار ، د مالیي وزارت د اضافی بودجې کارکوونکی میرمن بومیکا جامب ، د برنامی کارکوونکی ، د ملګرو ملتونو د میرمنو سره غونډې د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر په ۲۷ او ۲۸ په پرله پسی توګه ملاقاتونه وشو. په دی غونډو کښې هغوی د هندوستان د مالیي وزارت په چوکاټ کښی د میرمنو ستونزو ته ځواب ویونکې بودجې نوښتونه او همدارنګه ټوله نړی کښې د هغوی پرمختګونو په اړه معلومات شریک کړل. او سربیره پر دې د شپې د ډوډۍ پروګرام هم د اکتوبر په ۲۷ د بشر حقوقو او د میرمنو د حقوقو فعالانو او د مالیي او د ماشوم د ودې او مدني ټولنې وزارتو د کار پوهانو په ګډون ترتیب شوی وه. د شپې ډوډۍ هم د زده کړی د زده کوونکو او روزنه موندونکو لپاره یو ډیر ګټور چاپیریال برابر کړ چې غوړ ونیسی او د هغه فعالانو سره خبرې اترې وکړي چې د خپل عمر ډیر کلونه یې د میرمنو د ژوند او پیاوړتیا د ودې او پرمختګ لپاره قربانی کړي دي.

# د ټاکنو څخه تر لاسه شوو تجربو باندې مباحثه


د سولې او دموکراسۍ لپاره دیوشانوالي موسسې او د صلاح کنسرسیوم غړو " د تاکنو څخه په تر لاسه شو تجربو" تر عنوان لاندې د ۲۰۱۴ کالد جون د میاشتې په ۲۶ نېټه په کابل کښې یوه مباحثه تر سره کړه تر څو د ۲۰۱۴ کال د ولس مشرۍ ټاکنو څخه په تر لاسه شو تجربو غور وکړي. په دغه مباحثه کښې ټولو ۶۸ میرمنو ګډون کړی وه چې په هغو کښې د هیواد د ۳۰ ولایتونو څخه ټولنیزو فعالینو او ټولنیز مشرانو ګډون کړی وه. په ګډونوالو کښې هغه میرمنې او نارینه هم شامل وو ، چا چې پخوا "څنګه راتلونکي ټاکنې په بریالیتوب تر سره کړو" د ۲۰۱۳ کال د دسمبرد میاشتې په ملي کنفرانس کښې ګډون کړی وه.

ګډونوال د ساحو له نظره په درې کارې ډلو ویشل شوي وو: (۱) د ټاکنو په بهیر کښې د حکومت اجراآت ، د ټاکنو خپلواک کمیسیون ، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د شکایتونو دفتر ، نوماندان ، او دافغان ولس ؛ (۲) د ټاکنو د ورځې څخه د هغوی عمومي برداشت او ګمانونه ؛ (۳) د راتلونکو ټاکنو لپاره د تجربې تر لاسه کول. په دې یوه ورځینۍ غونډه کښې "د ټاکنو پر وړاندې ګواښونه او اصلاحات" تر عنوان لاندې د افغانستان د آزادو او عادلانه ټاکنو د بنسټ یو پرزنټېشن هم شامل وه.

د بحث لپاره دوه عمده پوښتنې وړاندې شوې: (۱) د ټاکنو وروسته د بحران د رامنځته کیدو عوامل څه وو او د کوم ډول تګلارو څخه کار اخستل کیدای شو چې د سیاسي کشمشکونه مخه یې نیولای وای ؛ (۲) د ټاکنو کمیسونونو ، نوماندانو او دولت کوم کارونه تر سره کولای شول تر څو د اختلافاتو او مشاجرو مخه نیول شوې وای؟ په پایله کښې دا وړاندیزونه مخ ته راغلل: ملي ګټو او قوانینو ته باید په درنه سترګه کتل شوی وای ؛ د ټاکنو اړوند موضوعات باید د عدلي او قضایي ارګانونو له لارې څېړل شوی وای ؛ مدني ټولنې باید د بحران د مخنیوي په غرض فعاله ونډه اخستې وای ؛ د ټاکنو کمیسیونونه باید په ټولو بهیرونو کښې ناپییلي پاته شوی وای.







## په ملي سطحه د میرمنو ولایتي شبکې ته پلوی پیدا کول

د اکتوبر په میاشت کښې ، د EPD د میرمنو ولایتي شبکې ۲۱ غړې له بامیان ، ننګرهار ، کندوز ، فاریاب ، هرات ، کندهار او کابل ولایتونو څخه د درې ورځو لپاره کابل ته راغلل. په کابل د خپلې استوګنې پر مهال ، د میرمنو د ولایتي شبکو غړو د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمیسون د مرستیال ، د سولې د عالي شورا د دارالانشاء ، او نورو ذیدخلو مراجعو او مدني ټولنو د فعالینو سره غونډې وکړې. په دې غونډو کښې ، د میرمنو د ولایتي شبکو غړو د چارواکو سره د افکارو تبادله وکړه او په خپله یې د سولې او امنیت په برخه کښې د میرمنو د نقش لپاره د ملاتړ د تر لاسه کولو ، د ټاکنو په بهیرونو کښې د میرمنو نقش او د فساد په مخنیوي کښې د هغوی نقش ، او په محلي سطحه د حکومتي چارواکو ټیټ ظرفیت ، او زیربنایي اړتیاو د نشتون په اړه خبرې و شوې.

د ملاتړ د لاسته را وړولو په وروستۍ ورځ ، EPD د میرمنو د نظریاتو د لړې دوهمه پاڼه چې په ټاکنو کښې د میرمنو د نقش او په راتلونکې کښې د میرمنو د مدني ګډون په لار پراته ګواښونو او فرصتونو په اړه خپره کړه. د میرمنو د ولایتي شبکو غړو د یو لړعمومي او شخصي موضوعاتو په اړه په خپله د حاضرینو د پینل د غړو ، او رسنیو سره په غونډو کښې ګډون وکړ. د میرمنو د ولایتي شبکو غړو په محلي کچه د میرمنو مدني ګډون موضوعات ، او په ولایتي سطحه په ټاکنو کښې د ګډون اړوند د لمړي لاس مشاهدات او تجربې شریک کړل او همدارنګه د میرمنو د ولایتي شبکو کارونه تر څو د میرمنو د نوم لیکلو شمیره زیاته کړي ، د ټاکنو په ورځ د ښځینه امنیتي پرسونل په دندو ګمارل ، او په ټاکنو کښې د نوماندانو او رایې ور کونکو میرمنو ګډون ته وده ورکول شي.

## د افغاني میرمنو حقونو ته وده ورکول

د اپریل په میاشت کښې د بمب د چاودنې له امله نګینې خپل میړه له لاسه ور کړ. د هغې د میړه د مړینې څخه وروسته ، هغه د خپل تره له خوا اړ کړی شوه چې هغه د هغې د میړه د خپلوانو له جملې څخه یوه نه کلن هلک ته په زور واده شي. د اقتصادي ستونزو له امله ، د هغې تره و غوښتل چې هغه د هلک په کورنۍ و پلوري. د فاریاب د میرمنو شبکې د دې قضیې په پلټنه پیل وکړ. د میرمنو د ولایتي شبکې د غړو ، دیني علماو او قومي مشرانو په مرسته ، نګینې و کولای شو خپل غږ پورته کړي او بریالۍ شوه چې په زور د هغې د واده کیدو مخه ونیسي. نګینې نه غوښتل چې بیرته د خپل تره کور ته لاړه شي ، ځکه هغه ویریدله چې هغه به بیا و پلوري. هغه اوس د افغانستان د فاریاب ولایت د میرمنو د امن کور کښې اوسیږي.

د نګینې قضیې د کورني تاو تریخوالي دوه نورې قضیې د فاریاب د میرمنو د ولایتي شبکې د غړو پواسطه هم را برسیره کړې. د میرمنو ولایتي شبکې غړو دې موضوعاتو ته د ځواب ویلو او مرستې په خاطر میدان ته را و وتلې او د حکومتي چارواکو سره په همغږۍ او د قرباني شوې میرمنې په موافقه چې هغې ته پوره تحفظ ور کول کیږي دې موضوع باندې کار و شو. د میرمنو ولایتي شبکې غړو په څو ولایتونو کښې د موضوعاتو په اړه د حقیقت موندولو لیدنې تر سره کړې دي او د یو کلي مشر ته یې دنده سپارلې تر څو دا ډاډ تر لاسه کړي چې قرباني شوي کس ته تحفظ ورکړل شوی دی. په ورته توګه ، د میرمنو ولایتي شبکې غړو په څو ولایتونو کښې د میرمنو پر وړاندې د عمومي او کورني تاو تریخوالي د قضیو ته د ځواب پیدا کولو په برخه کښې د ملاتړې نقش تر سره کړی دی. چې په هغو کښې چارواکو ته د قربانیانو راجع کول ، د چارواکو سره د دې قضیو تعقیبول او د قرباني سره د مرستې کولو همغږي کول ، شامل دي. پر دې سربیره ، د فاریاب ، ننګرهار ، بامیانو ، کندهار د میرمنو د شبکو غړو د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي (EVAW) په ورکشاپ کښې ګډون کړی دی.



# خیړنه او ارزونه

## د سولې او دموکراسۍ لپاره د یو شانوالي موسسې د میرمنو د نظریاتو لړۍ

سږ کال ، د سولې او یو شانوالي موسسې تر بیلا بیلو عنوانو لاندې "۲۰۱۴ کال کښې د میرمنو د نظریاتو را ټولو لړۍ" ، د خپرونو یوه لړۍ او د ډیرو مهم موضوعاتو اړوند راپورونه چې د میرمنو له نظره افغانستان دا مهال ور سره مخامخ دی ، خیړنې تر سره کړې دي. د دې لړۍ خیړنو له جملې څخه یو "په افغانستان کښې میرمنې ، سوله او امنیت" ترعنوان لاندې تر سره شوه: : "د پرمخ حرکت په خاطر یو ځل شا ته کتل" ، هم شامل دي. د ۹ مشورتي خیړنو په لړ کښې چې د ۲۰۱۳ کال په وروستیو کښې چې د ۲۰ ولایتونو څخه ۷۴ میرمنې شاملې وې دا خیړنې تر سره شوي دي ، چې دا خیړنه د ۲۰۱۵ کال پورې د سولې د عالي شورا د سولې د بهیر د لارې نقشې ته د یوې وسیلې په توګه یو ځل بیا کتنه کوي ، تر څو دا معلومه کړای شي چې افغانستان د یو مهم سیاسي او امنیتي انتقال په مرحله کښې قرار لري ، څنګه پر مخ ولاړ شو. تاسې کولای شۍ د دې خیړنو بشپړ متنونه د سولې او دموکراسۍ د یوشانوالي د موسسې له ویب سایټ څخه په انګلیسي ، پښتو او دري ژبو په لاس راوړئ.

د دې لړۍ دوهم سند "په افغانستان کښې په ټاکنو کښې د میرمنو ونډې" تر عنوان لاندې تیار شوی: "د راتلونکي مدني ګډون په لار کښې ننګونې او فرصتونه." دا خیړنه په ۸ مشورو ولاړه وه ، چې په ۱۹ ولایتونو کښې د ۲۰۱۳ کال په وروستیو کښې د ۷۰ میرمنو او هغو ۳۸ میرمنو سره د مرکو له لارې ، چا چې د EPD د "میرمنې او ټاکنې په ملي کنفرانس" کښې ګډون کړی وه ، د ۲۰۱۴ کال د لمړي او دوهم پړاو د ولس مشرۍ د ټاکنو څخه وړاندې او وروسته ترسره شوې وه. د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو څخه د لاسته راغلو تجربو په رڼا کښې او ۲۰۱۵ کال د ولسي جرګې ټاکنو امکان ته په کتلو ، دا لنډ معلومات دا آزمایي ، چې څه باید وشي تر څو د میرمنو د شمیر اندازه زیاته او ښه والي پکښې رامنځته شي. داسې بریښي چې ، د قوي لاسته راوړنو سره سره ، اوس هم باید پوره کار تر سره شي تر څو د میرمنو مدني حقونه په بشپړه توګه د عمل جامه واغوندي. دا سند د سولې او دموکراسۍ د پالیسیو د لاسته راوړنو او سپارښتنو د تشریح کولو له لارې هڅه کوي چې په ۲۰۱۵ کال کښې د میرمنو د دموکراتیک حق د لاسته رواړولو په لار کښې په پرتو خنډونو برلاسی ومومي او یا هغه را کم کړي.

د ۲۰۱۴ کال د دې لړۍ پای ته د رسیدو سره سم ، د افغانستان د سولې او دموکراسۍ د یوشانوالي موسسه وياړي چې ، هغه خپل نوی کلنی سند چې عنوان يې: په ۲۰۱۴ کال- د جنډر (جنسیتي) یو شانوالي راپور: د میرمنو او جنډر د یو شانوالي په اړه د افغانستان د دولت د ژمنو ارزونه دی خپروي. د ۲۰۰۱ کال څخه را په دیخوا د افغانستان دولت د میرمنو او یا په قانون ، معاهدو ، پریکړه لیکونو ، پالیسیو او سټراټژیکو اسنادو کښې د جنسیتي یو شانوالي په اړه څه د پاسه ۲۳۰۰ څرګندې ژمنې کړېدي ، دا یوه داسې شمیره ده چې په هغو کښې هغه ټولې بې شمیره شفاهي ژمنې شاملې نه دي چې په تیرو دیارلسو کالو کښې شوې دي. دا ژمنې یوه پراخه ساحه ، چې د ښوونې او روزنې او روغتیا څخه نیولې بیا انټرنتي خدماتو ته د لاسرسي او د اسلام په مقدس دین کښې د میرمنو د حقونو په اړه د عامه پوهاوي پورې موضوعات تر پوښښ لاندې نیسي. د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د پراخه لفظي قوي ژمنو سره سره بیا هم ، په ټولیزه توګه په دغه برخه کښې په افغانستان کښې شوی پرمختګ د هغو لوړو لوړو اهدافو په پرتله په بد ډول شاته پاته شوی دي.



دا سند په یو شمیر مهمو ساحو کښې د دولت د کړو ژمنو په اړه یوه بیا کتنه تر سره کوي: په دوی کښې د سولې بهیرونه ، امنیت ، روغتیا ، ښوونه او روزنه ، عدالت ته لاسرسی ، د میرمنو پر وړاندې تاوتریخوالی ، سرچینو او خدماتو ته لاسرسی ، سیاسي ګډون ، اقتصادي فرصتونه او کارمونډنه ، د آسیب پذیره ډلو ساتنه ، او د خلکو تر منځ د عامه پوهاوي لوړول شامل دي. دا سند د میرمنو له نظره په دې ساحو کښې د کار پرمختګ او نیمګړتیاوې ارزوي. د شوې سروې له مخې چې د سولې او د موکراسۍ د یوشانوالي د میرمنو د ولایتي شبکې سره د افغانستان په شپږو ولایتونو کښې تر سره شوې ده ، او د هغه تر څنګه په دفتر کښې د شتو امکاناتو پر بنسټ څېړنه او تر سره شوې مهمې مرکې هم ور سره ملګرې شوې دي ، کار اخستل شوی دی. هره ساحه کښې چې ژمنه یې شوې وه ، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته د هغو میرمنو له خوا چې سروې ور سره تر شوې یوه درجه ور کړې ده ، چې له هغه وروسته بیا د دولتي کړنو او پرمختګ په اړه یو ډېر ژور تحلیل او په برخو ویشنه شوې ده. دا سند د انتقال پړاو ته د داخلیدو پر مهال د دولت پرمختګونه روښانه کوي او هغه برخې چې لا نور ښه والي ته اړتیا لري په ګوته کوي. دا سند او د هغه څخه لاسته راغلی معلومات به د ۲۰۱۵ کالو په لمړیو وختو کښې خپاره شي.

## د افغانستان د ۱۳۹۴ کال د ملي بودجې یو تصویر او پراخه بیا کتنه

د روڼتیا او حساب ورکولو سازمان د خپل افغانی ائتلافي ملګري (ACTA)، یعنې د سولې او دموکراسۍ د یوشانوالي د موسسې (EPD) سره په ګډه د ملي بودجې څخه د کار اخستنې په مقصد د بودجې څخه د څارنې د یوې وسیلې په توګه کار اخستی تر څو د دولت له خوا د سرچینو د ویش او د خدماتو د وړاندې کولو د موضوع په اړه لمړی ګام پورته کړي. EPD د ملي بودجې یوه کلنۍ بیا کتنه تر سره کړېده ، کومه چې په ۱۳۹۱ (۲۰۱۲) کال کښې پیل شوې ده ، تر څو پارلمان ، مدني ټولنې او رسنیو ته د بودجې یو روښانه او ساده تصویر تیار کړي. دا بهیر د ملي بودجې د پلان جوړونې ، تطبیق ، څارنې او راپور ورکولو په اړه د مدني ټولنې له نظره په ټول بهیر کښې د مدني ټولنې او ولس په نقش باندې د یو ځانګړې ټینګار سره مل ، یو مفکوره وړاندې کوي.

د دې یو کلنې پروژې د تطبیق له لارې ، EPD هیله لري چې د بودجې یوه آسانه او منسجمه بیا کتنه وړاندې کړي تر څو خلک د بودجې په اړه و پوهیدلای شي چې دا د هغوی په ورځینې ژوند باندې څه اغیزه لري او د تخصیص شوو منابعو له لارې د خدماتو د څرنګوالي بیا کتنه وکړي. همدارنګه د بودجې دا خپلواکه بیا کتنه افغان پارلمان ته په دې اړه یو مفصل معلومات تیاروي تر څو هغوی ملي بودجه مطالعه او منظوره کړي. دا بهیر پر دې سربیره د مدني ټولنې له نظره د ملي بودجې د پلان جوړونې په اړه د نظر ورکولو یو مرجع برابروي.

د بودجې دا لنډه بیا کتنه د یو لنډ تصویر څخه عبارت دی چې پارلمان ته د بودجې د استولو سره مل د بودجې د پر وخت بیا کتنې او په نوي کال کښې د عامه مالي مدیریت ، اصلاحاتو ، او په نځښه شوو معیارونو له نظره رامنځته شوو انکشافاتو سره یو ځای نشر شوې ده. په ۲۰۱۴ کال کښې ، EPD ډیره خوښه معلومیده چې د ۲۰۱۴ کال د بودجې یوه ژوره ارزونه یې تیاره کړې ، کومه به چې د ۱۳۹۴ کال په بودجه کښې د لا ډیرو تفصیلاتو او د کلنۍ بودجې د حقیقي تخصیصاتو په اړه د په نځښه شو اهدافو او شاخصونو او شننو (تحلیل او تجزیي) ته ور ننوځي او همدارنګه به د ۱۳۹۲ کال د بودجې د وروستۍ بڼې یوه هر اړخیزه بیا کتنه کوي. د بودجې دا کلنۍ بیا ارزونه به د ۲۰۱۵ کال په لمړۍ ربعه کښې د وروستۍ منظور شوې بودجې پر بیا کتنه ولاړه وي ، خپره شي.

تاسې کولای شئ د EPD د ۱۳۹۴ کال د تسویدي بودجې دا خپلواکه بیا کتنه د EPD په ویب سایټ کښې په انګلیسي ، پښتو او دري ژبه تر لاسه کړئ.

# د يوې ښه بودجې تيارول: د ملي بودجې د ګټورتيا ارزونه او د ښوونې او روزنې او عامې روغتيا د وزارتونو له خوا د خدماتو وړاندې کول

په داسې حال کښې چې د افغانستان دولت د انتقال په حال کښې دی ، EPD د بودجوي خدماتو د ځيړنې يوه لړۍ پيل کړې ده ، او د ملي بودجې د بهيرونو او خدماتو د وړاندې کولو تر منځ يو تړاو آزمايلی دی. د روان سياسي او امنيتي انتقال په نظر کښې نيولو سره چې د تحول لسيزې ته داخليږي ، نو د پرمختګ په لار کښې د پرتو خنډونو د شتون په صورت کښې د ګټورې بودجې ترتيبول لا ډير مهم ګڼل کيږي ، ځکه داسې ښکاري چې بهرنۍ مرستې لږې شي. په دې راپور کښې د افغانستان د ملي بودجې اغيزې او د ښوونې او روزنې او عامې روغتيا د خدماتو وړاندې کول په بيلا بيلو لارو د هغو معلوماتو پر بنسټ چې له اتو ولايتونو څخه د يوه پراخه ځيړنې د تر سره کولو وروسته را ټول شوي دي ، آزمايل شوې دي. چې له دې څخه د بودجې په بهير کښې نيمګړتياو ته پام کولو او مختلفو ذيدخله مراجعو د خبرتيا په مقصد د سپارښتونو وړاندې کولو د يوې وسيلې په توګه کار اخستل شوی دی.

دې ځيړنې د بودجې او خدماتو د نه ګټورتيا تر منځ او د ملي بودجې اړوند ارقامو او مربوطه اسنادو موضوعاتو لپاره د مرکې د مناسبو بيلګو د پيدا کولو له لارې يوه اړيکه په ګوته کړې ده . دا نتيجه تر لاسه کيدای شي چې په ملي بودجه کښې د اختياري بودجې نشتون ، پيچلې کړنلارې او په ولايتي کچه د وړتيا نشتوالی (او په يوه کمه اندازه په ملي کچه)، پراخه فساد ، او د ولايتي بودجې جوړولو يو ګټور ميکانيزم نه درلودل د بودجې په بهير کښې د افغانستان د اسلامي دولت ناتواني ته د يوې اصلي نيګړتيا په توګه کتل کيږي چې دا په خپل وار په ولايتي سطحه د ښوونې او روزنې او عامې روغتيا په خدماتو په څرنګوالي اغيز ښيندي.

د دې راپور خپرول د افغانانو او ملي رسنيو څخه د EPD لاسته راوړنې وړاندې کوي تر څو د بودجې او خدماتو د وړاندې کولو په اړه يو عمومي بحث را منځته کړي. د مدني ټولنې ، نا دولتي موسسو او څو ملي رسنيو ۵۰ کسه اوريدونکو په دې مراسمو کښې برخه واخيسته. ادريس عمرزاد او حيات الله بيان په دې غونډه کښې EPD او د روښتيا او حساب ورکولو د افغاني يو والي د شبکې استازيتوب کاوه ، او ښاغلي فرهاد فقيري د افغانستان د آزادې ټولنې د مرسته ورکونکې ادارې استازيتوب کاوه (OSA). تاسې کولای شۍ دا راپور د EPD د ويب سايټ څخه په پښتو او دري ژبو تر لاسه کړئ.



# د میرمنو ولایتي شبکه -PWN

د میرمنو ولایتي شبکه (PWN) په ۲۰۱۲ کال کښې د EPD له لورې تاسیس شوه تر څو داسې یو مرکز رامنځته کړي چې د ټولو اقشارو پورې اړوند میرمنې یو ځای د زده کړې او ظرفیت د لوړولو او یووالي د را منځته کولو او په خپلو ټولنو کښې د خپل منځي او هم نورو ډلو سره د یو اتحاد را منځته کولو لپاره په ګډه کار وکړي. د ټولنې غړې کوښښ کوي تر څو په افغانستان کښې د سولې او انتقال د بهیر او د میرمنو پر ژوند د هغوی د اغیزو ، د هغوي په ټولنو کښې سولې ته وده ورکولو ، د شخړو حلولو ، او د میرمنو اړوند موضوعاتو په اړه په بنسټیزه کچه زده کړې وکړي. دا شبکه په ټولنو کښې هغه موضوعات هم په ګوته کوي چې د میرمنو پرمختګ سره تړاو لري او هغوی ته پاملرنه کوي.

سږ کال ، EPD په خپلواکه توګه د خپلې میرمنو د ولایتي شبکې یو منځ مهاله ارزونه تر سره کړه چې تر لاسه شوی پرمختګ لاسته راغلې تجربې و ارزوي تر څو پروګرام لاښه او د هغه اغیزې لا لوړې کچې ته ورسوي.

## په محلي سطحه د سولې په بهیر کښې د میرمنو د ګډون ملاتړ

په ۲۰۱۴ کال کښې ، په ټول افغانستان کښې د میرمنو د ولایتي شبکې غړې د سولې په بهیر کښې د میرمنو د ګډون په اړه ډېرې فعالې وې. د فاریاب د میرمنو شبکه په بېلا بېلو موضوعاتو باندې چې د میرمنو او د هغوي د کورنیو سره سره تړاو لري ، کار کوې. د مارچ په میاشت کښې ، د فاریاب د میرمنو شبکې د هغو کورنیو او افرادو سره غونډې تر سره کړې چې په وروستیو وختو کښې د سولې له بهیر سره یو ځای شوي دي. داسې راپور ور کول شوی چې ۲۷۶ د دولت مخالفین په فاریاب ولایت کښې د سولې له بهیر سره یو ځای شوي دي. د فاریاب د میرمنو شبکه د سولې د ولایتي کمیسیون سره ښه اړیکې لري. د همغږۍ منظمې غونډې تر سره کوي تر څو دا ډاډ تر لاسه شي چې د فاریاب د میرمنو د شبکې غړې د سولې د عمومي پرمختګ په اړه په دغه ولایت کښې تازه معلومات تر لاسه کړي. د میرمنو د ولایتي شبکې غړې د کورنیو او د هغوي نو یو ځای شو غړو او د سولې ولایتي شورا تر منځ د منځګړي نقش لوبوي ، تر څو دا ډاډ تر لاسه شي تر هغوی سره د شوو مرستو ژمنې د عمل جامه واغوندي. تر اوسه پورې ، د سولې د بهیر سره د یو ځای کسانو لپاره د حرفوي زده کړو کورسونه جوړ شوي دي. د فاریاب د میرمنو شبکه د هغوی څخه په منظمه توګه لیدنه تر سره کوي تر څو ډاډه شي چې هغوي هڅیدلې او بیر ته تاو تریخوالي ته مخه نه کوي.



د تولنې د ځینو قومي مشرانو سره په همغږۍ ، د کندوز د میرمنو شبکې د سولې د ولایتي شورا سره غونډې تنظیم کړې دي. د غونډو هدف د پرمختګ او دا چې څه باید تر سره شی څخه عبارت دی. د سولې د ولایتي شورا مشرتابه ژمنه وکړه چې هغه به د سولې د ولایتي شورا د غړو کړنې ، په ځانګړې توګه د میرمنو کړنې له نژدې و څاري او هغوی ته به د ولس مشرۍ ترد ټاکنو وروسته ځواب پیدا کړي. د ننګرهار د میرمنو شبکه د میرمنو سره په ټولنیزه کچه ، په ځانګړې توګه په هغو ټولنو کښې چې سړي د مخالفینو سره کار کوي. د منظمو غونډو او پلویانو د پیدا کولو له لارې ، د میندو څخه هیله و کړي چې خپل بچیان او میړونه د مخالفینو لیکو سره یو ځای کیدو ته و نه استوي. یوې مور خپله کیسه کوې چې هغې څنګه و کولای شو چې خپل ځوی د مخالفینو سره د یو ځای کیدو څخه را منع کړي.

د سولې عالي شورا (HPC) ، د افغان میرمنو ، مدني ټولنو ، د میرمنو او ځوانانو شبکو سره یو ځای په ټول هیواد کښې یو کمپاین پیل کړ تر څو د سولې غبر پورته او تاوترخوالي ته د پای ټکی کیږدي. دې کمپاین ۳۰ ورځې دوام و موند او مقصد یې دا وه چې د سولې غږ ډیرو خلکو ته و رسوي او د سولې په خاطر د ژوند د ټولو برخو پورې تړلو میرمنو لاسلیکونه را ټول کړي. دا د افغان دولت ، وسله والو مخالفو ډلو او نړیوالې ټولنې څخه یوه غوښتنه او یو وړاندیز وه تر څو د سولې د استقرار لپاره یو ګډ دریځ غوره کړي. EPD د میرمنو د ولایتي شبکو له لارې و توانیده چې د ټولو ولایتونو څخه شاو خوا (۷۰۰۰) لاسلیکونه را ټول کړي. EPD همدارنګه د کمپاین د ډیزاین او تطبیق لپاره د کاري کمیسون غړې وه.

په ۲۰۱۴ کال کښې ، EPD د میرمنو سیمه ایزې شبکې "د جګړې دوام او انتقال" راپور ترتیب کړ. په دې مراسمو کښې د پوهنتون محصلینو ، رسنیو او مدني ټولنو ګډون کړی وه. په دې مراسمو کښې مهم خبرې کونکي او هئیت غړي آغلې نجلا آیوبي ، د اسیا فونډیشن مرستیاله او د میرمنو د سیمه ایزې شبکې غړې ، آغلې هوسۍ وردک ، د EPD مرستیاله او د میرمنو د سیمه ایزې شبکې غړې ، ښاغلی مسعود عزیزي ، د کورنیو چارو د وزرات مرستیال ، ښاغلی نعمت الله سیار ، د فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې د ګډ کمیسون تخنیکي مشاور او ښاغلی شاهپور احمدي ، د کورنیو چارو د وزارت مشاور وه. ټولو په یو غږ د دغه د پام وړ ځانګړي راپور څخه ، چې په اته ولایتونو کښې د میرمنو د حقوقو په اړه تر سره شوی وه ، خپل ملاتړ اعلان کړ. د میرمنو د دغې ژوندۍ تجربې پر بنسټ ، دا راپور و توانید چې د امنیت ، فساد ، او عملي مرستې په اړه د افغان میرمنو نظریات روښانه او څرګند کړي.





# د روڼتیا او حساب ورکولو لپاره افغاني یووالی –ACTA

د روڼتیا او حساب ورکولو لپاره افغاني یووالی (ACTA) د کار پوهانو یو والی دی چې د ځوانانو د ډلو ، میرمنو ، مشرانو او مذهبي مشرانو چې په خپله خوښه غواړي روڼتیا او حساب ورکولو په خاطر عمومي پالیسیو ، ستراتژیو او سرچینو ته وده ور کړي. په داسې حال کښې چې د (ACTA) مشورتي کمیسون په کابل کښې په ملي سطحه د ملي بودجې پلان جوړوني او تطبیق بیا کتنه کوي ، د (ACTA) ډلې په ولایتي سطحه په خپلو ټولنو کښې د مربوطه ادارو له لارې د پروژو د تطبیق او خدماتو د وړاندې کولو څارنه کوي او حساب ور کولو ته یې اړ کوي. EPD د دې شبکو په تاسیسولو ، او غړیو ته یې د فساد ضد ، روڼتیا ، حساب ورکولو او په ټولنیزه کچه د څارنې د زده کړې ورکولو په برخه کښې او هم د هغوی لپاره د ملاتړ د پیدا کولو او څارنې د عمل د پلانونو په ترتیبولو او تطبیق په برخه کښې مرسته کوي.

## د روڼتیا او حساب ورکولو لپاره افغاني یووالی پراختیا

د ۲۰۱۴ کال د جولای په میاشت کښې EPD یوه نوې پروژه پیل کړه چې د "کابل د ښاري انتقال" په نامه یادیده ، چې د EPD او ACTA د شبکې پراختیا ته یې د کابل ولایت په ده سبز ، قره باغ او دشت برچې سیمو کښې لاره هواره کړه. په ښارونو کښې سکونت غوره کول به د افغانستان راتلونکي ته په ژوره توګه د سیاسي او امنیتي انتقال په خیر نوې بڼه ور کړي. په کابل ولایت کښې ښاري وده تر ډیر اندازې پورې په چټکې سره د ښاروالۍ او ناحیو د ادارو د خدماتو وړاندې کولو اړتیا لوړه کړې ده. دغه کاري ساحې د هغوی د مختلطو شخړو او ټولنو د مخ په بدلیدونکي حالت ، د ځوانانو د نفوسو ډیروالی ، سیاسي اهمیت او جغرافیوي موقعیت له امله چې د هیواد پایتخت د شمال ، ختیځ او جنوبي سیمو ته عمده ترانزیټي لارې سره نښلولې ، غوره شوي دي.

د دې پروژې هدف دا وه چې د ځوانانو د روڼتیا او حساب ورکولو لپاره د افغاني یووالي دریو شبکې تاسیس کړي او له هغوی سره د ملاتړ د تر لاسه کولو د پرمختیا په خاطر مرسته و کړي او د ټولنو وړتیا لوړه او سوله ایز انتقال ته وده ور کړي او ټولنیزه وړتیا لوړه کړي تر څو د ملکي ملاتړ د پیاوړتیا په برخه کښې د یوې دندې په توګه روڼتیا او حساب ور کول را منځته کړي. EPD د کابل ولایت په قره باغ او ده سبز ولسوالیو او د دشت برچې په ناحیه کښې د ۱۹۹ غړو په درلودلو سره د ACTA شبکې تاسیس کړي. د ملاتړ د پیدا کولو او د هغو پروژو د څارلو چې د دې نوو شبکو له لورې تر سره شوي دي د خدماتو وړاندې کولو سربیره ، د EPD سره مرسته کونکې اداري ، CCI دوه پروژو ته په ټولنیزه کچه د هغه لنډ معلومات پر بنسټ چې د EPD او ACTA د غړو له لورې تیار شوی وه ، مالي ملاتړ برابر کړی دی. په قره باغ کښې ، ټولنو د خیاطي او کرنې د چارو اړوند پروژې تر لاسه کړې دي ، ده سبز د خیاطۍ پروژه او یوه کتابخانه تر لاسه ، او په دشت برچې کښې یوه کتابخانه او کمپیوټر کورس جوړ شوی دي.

## د روڼتیا او حساب ورکولو له لارې ښه حکومتدارۍ ته وده ورکول او فساد سره مبارزه ACTA

په ۲۰۱۴ کال کښې ، د EPD او ACTA شبکو په ټول افغانستان کښې ډیرې فعالې وې چې هغه څه چې دوی زده کړي یعنې د حکومت د خدماتو وړاندې کول او ښه حکومتدارۍ ته وده ورکول د څارنې بهیر په عمل کښې پلي کړي. د بامیانو د روڼتیا او حساب ورکولو لپاره د افغاني یووالي غړو په شیبر ولسوالۍ کښې د ولسوال سره د جنورۍ په میاشت کښېې یوه لیدنه تر سره کړه چې د خپلو ټولنو ستونزې ور سره شریکې کړي او په اړه یې د اړینو ګامونو د پورته کولو غوښتنه ځینې و کړه. ګډونوالو د هغه سره د روغتیایي خدماتو ، ښوونې او روزنې او اوبو رسولو د خدماتو نشتون ، د سړکونو خراب وضعیت ، او په دغه سیمه کښې د برښنا د کوچنیو بندونو د فعالیت څخه د لویدو یادونه او خبرې یې پرې وکړې او په دغه برخه کښې د محلي حکومت د پاملرنې غوښتنه وکړه. یو سوله ایز لاریون هم د جنورۍ په میاشت کښې تر سره شو تر څو حکومت څخه و غواړي چې د امریکا د متحده ایالاتو امنیتي تړون لاسلیک کړي. په دغه سوله ایزه او آرامه مظاهره کښې ، د بامیانو ټولنیزو او مدني

فعالینو د ولس مشر حامد کرزي څخه و غوښتل چې دوه اړخیز تړون په هکله د لوی جرګې د تصمیم عملي کړي.

په بامیان کښې د EPD او ACTA شبکې دا نوښت هم وکړ چې په میاشت کښې دوه ځل یوه خبر پاڼه هم خپره کړي او په هغې کښې د بامیانو د خلکو ستونزې چې هغوی ور سره هره ورځ په خپل ورځیني ژوند کښې لاس او ګریوان دی خپروي. د ACTA شبکې د دې خبر پاڼې خپرول څکه پیل کړل چې د خلکو هغو ستونزو لپاره د حل لارې و مومي چې دولت او محلي خلک هغو ته هیڅ پاملرنه نه کوي. هغه مضامین چې په دې خبر پاڼه کښې د مقالو په بڼه خپریږي زیاتره د هغو ستونزو د حل لپاره د ملاتړ د پیدا کولو په خاطر صورت نیسي چې د ACTA شبکې او همدارنګه د بامیانو د میرمنو د شبکې د فعالیتونو په پایله کښې موندل شوي او د هغوي لپاره د حل لپاره کار کوي. دا خبر پاڼه د بامیان ټولو خلکو ته د حکومتي دفترونو ، پوهنتونو ، محلي هټیو (دوکانو) او نورو ډیرو ځایونو له لارې ویشل کیږي. د بامیان ولایت چارواکو د دې خپرونې پر وړاندې ښه غبرګون ښودلی دی ، او د خلکو له خوا یې په بامیانو کښې د دا ډول فعال ګډون هر کلی کړی دی.

په هرات کښې د EPD او ACTA شبکې غړو د هرات د ښاروالۍ او اوبو رسولو ریاست سره د انجیل (۳) ولسوالۍ د نو آباد کلي د څښلو اوبو د ستونزې په اړه یوه غونډه تنظیم کړې وه. د ACTA شبکې غړو د چارواکو غوږونو ته دا خبره و رسوله چې په دغه سیمه کښې یوه سروې تر سره او د څښلو د اوبو سرچینې په ګوته کړي. ساحوي انجنیرانو ته د دې کار د سر ته رسولو دنده و سپارل شوه او د ACTA شبکې غړو یوه ډله هم په دنده و ګمارله چې د ساحوي انجینرانو سره د سروې په کار کښې مرسته وکړي. د پولیسو په زیاته چټکتیا حرکت کونکو عرادو د هرات په ښار کښې ډیرې ترافیکي پیښې را منځته کړي ، او د خلکو د تپې کیدو او په ځینو حالاتو کښې د مړیني سبب ګرځیدلې دي. دا د خلکو لپاره د سترې اندیښنې وړ خبره ده او باید د هرات د پولیسو د څانګې له لورې باید ور ته پاملرنه وشي. د پولیسو د څانګې د مشر له لورې دا و منل شوه چې په دې اړه لازم ګامونه پورته کړي او ژمنه یې وکړه تر څو دا ډاډ تر لاسه شي چې ټول به خبر کړای شي چې د خپلو موټرانو د چټکتیا اندازه لږه کړي.

په ننګرهار کښې د EPD او ACTA شبکې غړو د ښوونې او روزنې د څانګې د مرستیال سره د انجنو زده کونکو د ستونزو په اړه غونډه تر سره کړه ، چې په دې غونډه کښې ترانسپورتي اسانتیاو ته د هغوی لږ لاسرسی او د ښوونځیو په احاطه کښې دننه د څښلو د پاکو اوبو نشتون یادونه وکړه. د ACTA شبکې غړو د هغو زده کونکو لیسټ ترتیب کړ څوک چې عمومي ترانسپورتي خدماتو ته ډیر لږ لاسرسی لري او نوموړي مرستیال ته دا هم وویل شول تر څو هڅه و کړي د دوې د ستونزو لپاره یو مناسب او د هغوی د توان سره سم یوه حل لاره و مومي. په پایله کښې ، د ښوونې او روزنې وزارت ته یو مکتوب ولیږل شو تر څو انجنو زده کونکو ته ترانسپورتي اسانتیاوې برابرې کړي.



# موسسوی پرمختیا

## د څارنې او ارزونې زده کړه

سږ کال ، EPD د څارنې او ارزونې خپل سیستم پر نتایجو ولاړ سیستم ته اړولی دی او د څارنې او ارزونې یوه نوې پالیسي یې جوړه کړې ده. دا سند د EPD د څارنې او ارزونې د سیستم لپاره د یو لارښود چوکاټ په توګه کارول کیږي. د EPD د څارنې او ارزونې سیستم دا خبره تشریح کوي چې اجراآت باید څه ډول و څارل شي او باید څرنګه نتایج او اغیزې و ارزول شي. دا لارښود د څارنې او ارزونې اساسات تر پوښښ لاندې نیسي ، او د څارنې او ارزونې مشخص تفصیلي طرزالعملونه د EPD د فعالیتونو د درې اجزاء له مخې: (۱) پروژې / پروګرامونه ، (۲) دروزنې او (۳) څیړنې د پروګرامونو د څارنې او ارزونې عمومي د سیستم چوکات را منځته کوي.

پر پوښتنو د تمرکز پر ځای چې آیا مونږ دا پروژه لکه څنګه چې هو کړه پرې شوې وه عملي کړې (پر تطبیق ولاړ د څارنې او ارزونې سیستم)، د EPD د څارنې او ارزونې نوې طرحې کیفیت او د هغه څه اغیزه چې مونږ سر ته رسولې دي یا انجام کړي او که نه. د EPD د څارنې او ارزونې طرحه داسې جوړه شوې چې زمونږ د فعالیتونو په اړه نظریات او سپارښتنې وړاندې کړي ، او بریالیتوبونه او نیمګړتیاوې او همدارنګه د زده کړې فرصتونه او د ادارې اوسنۍ کړنلارې اصلاح ، او همدارنګه د هغوی د اهدافو او طرحو په اړه مرسته کونکو ادارو او ګډونوالو ته د نظریاتو او سپارښتنو د وړاندې کولو په هیله دیزاین شوې ده.

د ۲۰۱۴ کال د اګست ۱۳.۱۰ نیټې پورې ، د EPD ټول کارکونکي د څارنې او ارزونې د نوي سیستم په برخه کښې د کابل په دفتر کښې روزنه تر لاسه کړه. د دې روزنې مقصد د څارنې او ارزونې د سیستم انکشاف او د EPD د کارکونکو د وړتیاو لوړول وو. د دې لپاره چې په ټولو پروژو کښې د بریالیتوب په موخه موسسې د روزنې دا پروګرام تنظیم کړ تر څو د ادارې سره دا مرسته و شي چې پروژې په ګټوره او موثره توګه سر ته و رسوي او نه یوازې د فعالیتونو نتایج و څاري بلکه د پروژو ټول نتایج او اغیزې هم وڅاري. د څارنې او ارزونې د روزنې د پروګرام لمړۍ څخه تر دریمې ورځې پورې د څارنې او ارزونې په اړه د عمومي معلوماتو او د EPD د نوی سیستم په باره کښې معلومات ورکول وو. د روزنې په څلورمه ورځ روزونکو عملي تمرینونه تیار کړي وو ، تر څو زده کونکو ګډونوالو ته دا فرصت برابر شي چې په دې خبره پوه شي چې د څارنې او ارزونې بهیر عملا څنګه تر سره کیږي. په دې تمرین کښې د خطر معلومولو ارزونه ، د ذیدخلو/ذینفعو مراجعو تحلیل او تجزیه ، د پروژې منطقي چوکاټ ، او د ارقامو / معلوماتو راټولولو پلان شامل وو.

د EPD د څارنې او ارزونې په سیستم کښې میاشتنې خانله پلانونه او د EPD عمومي درې میاشتنۍ غونډې او د عمل پلانونه شاملې دي. د نوو پروژو لپاره به د څارنې او ارزونې فورمې په کار وې او هغه به د ACTA او PWN په شمول تر کار لاندې پروژو ، سره یو ځای کیږي. د څارنې او ارزونې معلوماتي سند هم ترتیب شوی دی ، کوم چې په عملي او منظمه توګه د پروژو د څارنې په بهیر کښې د ګټورتیا په خاطر وخت پر وخت نوی کیږی.

## د EPD جنډر د پالیسۍ جوړول

د څارنې او ارزونې پر نوې پالیسۍ سربیره ، په ۲۰۱۴ کال کښې EPD همدارنګه د جنډر پالیسي هم تیاره کړه. د EPD د جنډر پالیسي په دې هیله جوړه شوه چې نا برابري یوه ژوره ریښه لري او دا چې د جنډر پر بنسټ تبعیض کیدای شي په بیلو بیلو بڼو را څرګند شي. تر هره حده چې وي EPD او د هغې کارکونکي داسې ګڼي چې د جنډ ر د موضوعاتو په اړه باید حساس اوسي ، لکه څنګه چې د میرمنو لپاره د پام وړ او د هغوی له لورې رهبري کیدونکي ادارې ، آګاهانه او پر له پسې هڅې ته اړتیا لري چې د جنډر اړوند طرحو او فعالیتونو په اړه په دواړو سازماني او همدارنګه د نورو ګډونوالو سره او هم په محلي سطحه د کار پر مهال عملي ډاډ ترلاسه کړي. د جنډر پالیسۍ د دغو هڅو د تر سره کولو په لار کښې یوه ژمنه ګڼل کیږي. د دې هڅو عمومي مقصد دا دی چې د میرمنو لپاره په اداره ، بیلا بیلو ګډونوالو او ټولنو لپاره چې په کومو کښې مونږ کار کوو تر څو د میرمنو اړوند موضوعاتو ته د پاملرنې موضوع څواکمنه شي ، یو مناسب چاپیریال رامنځته کړو.

د EPD جنډر پالیسي د دې پاره جوړه شوې تر څو هم په داخل او بهر کښې

د هغې څخه کار واخستل شي. په داخل کښې ، دا سند د پالیسیو اړتیاوو او لارښوونکي اصول په یو چوکاټ کښې د را وستلو او د جنډر په برخه کښې د EPD د ټولو کارکونکو ، عملیاتو ، پروژو او پروګرامونو لپاره کارول کیږي. د EPD د ټولو کارکونکو څخه غوښتنه کیږي چې د EPD د جنډر د پالیسۍ سره د بلدتیا او اشنایۍ لپاره یوه غونډه و لري. د هرې څانګې څخه غوښتنه کیږي چې د EPD د جنډر د پالیسۍ چاپ شوی سند له ځانه سره و لري.

په بهر کښې ، د EPD د جنډر د پالیسۍ کومه چې د افرادو او ادارو لپاره د جنډر د نابرابرۍ او ستراتژیو په برخه کښې د یوې وسیلې او د پوهې د یوې سرچینې په توګه کار اخستل کیږي تر څو د یوې موسسې په عملیاتو کښې د جنډر اړوند ستونزو کښې سمون رامنځته کړي. دا همدارنګه د مقررو بالیسیو په رڼا کښې د EPD په استازیتوب د یو عمومي تعهد په توګه ، او د ځواب ورکولو د یوې وسیلې په توګه چې EPD خپل تعهدات د جنډر د برابرۍ په برخه کښې عملي کوي ، کار اخستل کیږي.

**د جنډر په برخه کښې د عملي پلوه د EPD اصولي لارښود:**

۱.په محلي او ملي سطحه د میرمنو با کیفیته ګډون ته وده ورکول

۲. میرمنو ته د هغوی د خپل ستونزو د حل لارو پیژندل او د هغوي ځواکمنې کول

۳. د شبکو او اتحادونو را منځته کول

۴. په ټولو عرصو کښې د میرمنو ګډون او د هغوی نظر ته وده ورکول

۵. د ملاتړ ترلاسه کول

۶. د جنسیتي برابرۍ ترویج او د هغوی د انځور او منطق پیاوړتیا

۷. ضرر نه رسول

۸.د نارینو ملاتړو بوختیا

۹. د اسلامې نظره د میرمنو جنیستي برابرۍ ته وده ورکول



## د سولې او دموکراسۍ د پوشانوالي په موسسه کښې نوي کار کونکي

مونږ غواړو د خپلو ډیرو مهمو کارکونکو د کار او ونډې اخستلو ستاینه وکړو چې په ۲۰۱۴ کال کښې زمونږ له ادارې څخه تللي دي. مونږ د آغلې سمیه درانۍ نه د سترې کیدونکې هڅو ستاینه او قدر کوو ، چا چې د EPD سره د موسسوي انکشاف د مشاورې په توګه دنده تر سره کړې ده او له مونږ سره یې مرسته کړې او مهمې پالیسۍ او لارښودونه را منځته او اصلاح کړي او د ادارې د پرله پسې ودې په برخه کښې یې پراخه ونډه درلوده. مونږ همدارنګه د موسسې د مرستیالې هوسۍ وردک او آغلې هما ساپۍ چې په ټول افغانستان کښې یې د میرمنو د حقوقو د لاسته راوړنې د پروګرامونو او د EPD د لرليد (دیدګاه) لپاره د ملاتړ د برابرولو او د میرمنو او ځوانانو ګډون د زیاتوالي ډیرې هڅې کړې دي ستاینه کوو. مونږ د سلیم انور څخه د EPD د مالي چارو د مسئول په توګه د هغه ښه کارونو د تر سره کولو لپاره قدرداني کوو. آغلې ماری هابر ، د EPD د تخنیکی مشاروې ، EPD اداره پریښې ده ، اما مونږ په دې هیله یو چې د هغې سره دوامداره همکاري و لرو ، ځکه چې هغه به په ۲۰۱۵ کال کښې د یوې مشاورې په توګه د EPD د څیړنې د برخې د کارونه پر مخ وړي. مونږ د ټولو کارکونکو چې د کار د ارزښتناکې ونډې ستاینه کوو ، او د افغانستان میرمنو او ځوانانو لپاره د هغوی له خوا د سرته رسیدونکو کارونو له امله د ښه راتلونکې غوښتونکي یو.

د دې تر څنګ ، مونږ ډیر خوښ یو چې یو شمیر کارکونکي چې زمونږ د ټیم سره یو ځای شوي دي ، تاسې ته در پیژنو. ښاغلی ادریس عمرزاد د ادارې د نوی مرستیال په توګه له ادارې سره یو ځای شوی دی. هغه د بیلا بیلو افغان وزارتونو سره تر لسو کلنو ډیره د بیلا بیلو مدیریتی کارونو تجربه لري ، چې د پروژې د مدیریت څخه نیولې بیا د مفاهمې د ستراتژیو پورې په هغو کښې شاملې دي. هغه د EPD د پروګرامونو د عملي کولو لپاره په ۲۰۱۴ کال کښې ډیر درانده کارونه تر سره کړي دي او مونږ هیله لرو چې هغه به EPD د رسالت د سرته رسوولو په دې لاره کښې خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړي. مونږ همدارنګه د عبدالواجد خان ، څوک چې د مالي چارو نوی مدیر دی ، هر کلی وایو. هغه په محاسبه ، تفتیش او د مالي چارو په مدیریت کښې ۶ کلنه تجربه لري او هغه د سترو پروژو د مالي عملیاتو د څارنې په برخه کښې پراخه تجربه له ځانه سره لري.  هغه د محاسبې په برخه کښې دوه تصدیقونه لري او په اقتصادي او سوداګریزو امورو کښې یې د لیسانس تر درجې تحصیل کړی دی.

آغلې نوریه سلطاني د EPD د پروګرام او ملاتړ تیاروني د مدیرې په توګه د ادارې سره کار پیل کړی دی. هغه د هند د پونې پوهنتون څخه د ټولنیزو حقوقو په برخه د لیسانس په کچه تحصیل کړی دی د مدیریت ، پروګرامونو ته د پلویانو پیدا کولو ، پروګرام او ارزونې په برخه کښې څو کاله کاري تجربه لري. EPD هیله لري چې آغلې سلطاني به EPD په اداره کښې د خپلو ښه فعالیتونو د سرته رسولو له لارې ډیر پرمختګ وکړي او هم به د EPD د پروګرامونو د بریا او پرمختیا په برخه کښې خپلې ټولې هڅې په کار واچوي.

ښاغلی ماوریتز ریډ په ۲۰۱۴ کال کښې د EPD سره د یو همکار په توګه کار پیل کړ ، او د EPD د فعالیتونو څخه یې د څیړنې ، د سرچینو په کار اچولو ، او پلوي پیدا کولو په اړه ملاتړ وکړ. هغه د تاوتریخوالي ، شخړو او انکشاف په برخه کښې د لندن د SOAS پوهنتون څخه د ماسترۍ په کچه تحصیلي اسناد لري او د ټولنیزو علومو د څیړنې په برخه کښې یې روزنه تر لاسه کړې ده. هغه په EPD کښې ، ښه حکومتدارۍ ، بودجې جوړونې ، اړیکو جوړولو ، محلي حکومتونو ، روڼتیا او حساب ورکولو ، د دولتي امورو د څارنې او ارزونې او فساد په اړه څیړنې تر سره کړې دي.

ډاکټر پام ګربین چې ډیر لږ وخت کیږي د EPD د ادارې سره یې د ۲۰۱۵ کال په لمړیو کښې تخنیکي مشاور په توګه کار پیل کړی دی. هغه په ټولنیزو علومو او اجتماعي- اقتصادي انکشاف په برخه کښې دوکتورا لري ، او همدارنګه د رواني ناروغیو د علم ، او چارو د ادارې ، او فلسفې (رسنۍ او کلتور) په برخه کښې ماسټري لري. د هغې د پراخه تعلیمي سابقې سربیره ، په برما کښې هغه د کلیوالو خلکو په کچه د پروګرام جوړولو او د ټولنې ګډون او بشري حقوقو ته ودې ورکولو ، جنسیتي یو شانوالي ، او ځوانانو ګډون په  په پرمختیایي کارونو کښې ، او همدارنګه په افغانستان د کار پوره تجربه لري.

# مرسته کونکي اداري او د کار ګډونوال

## په ۲۰۱۴ کال کښې مرسته کونکي اداري

د هالنډ سفارت
د ملګرو ملتو پرمختيايي پروګرام
د امريکا د متحده ايالاتو د سولې انستيتوت
د افغانستان آزاده ټولنه
آسيا فونډېشن
نوښتګر همکاران
توانمندي

## ملي ګډونوال

د ماليې وزرات
د ميرمنو د چارو وزارت
د سولې عالي شورا او د سولې ولايتي شورا ګانې
د عدليې وزارت
د عامې روغتيا وزارت
د ښوونې او روزنې وزارت

## پيوستون او غړيتوب

**صلاح کنسرسيوم (د خو شرکتونو يو والى)**

صلاح کنسرسيوم د اتو افغاني منظمو مدني ټولنو يوه اتحاديه ده چې د افغانستان د ۳۴ ولايتونو څخه استازي د پاليسيو جوړولو او ملاتړ پيدا کولو په برخه فعاله ونډه لري ، تر څو په افغانستان کښې د دموکراسۍ ، بشري حقونو ته د درناوي ، او د هر نوع تړاو پرته د ټولو افغانانو ګډون پر بنسټ سوله او امنيت ته وده ور کولى شي: د افغان ټولنې د بيا رغونې اداره (ACRU)، د افغانستان د عامه سوکالۍ اداره (APWO)، د افغاني ميرمنو ښوونيز مرکز (AWEC)، د سولې او يوالي د همغږي اداره (CPAU)، د سولې او دموکراسۍ د پوشانوالي موسسه (EPD)، د سولې د زده کړې او څيړنې اداره (PTRO)، د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO)، د اړيکو دفتر (TLO) د صلاح کنسرسيوم غړي دي.

**د مدني ټولنې ګډه کاري ډله**

د مدني ټولنې ګډه کاري ډله (CSJWG) د ۳۰ کاري ډلو له ترکيب څخه جوړه شوې ده چې د بيلا بيلو کچو د ۱۴۰۰ سازمانونو استازيتوب کوي. د (CSJWG) ډله په دې خاطر د اهميت وړه ده چې د افغانانو تر مشرۍ لاندې يوه شبکه ده او مختلفې افغاني مدني ټولنې يې په خپله غيږه کښې نيولې دي. د هغې په غړو کښې د نا دولتي موسسو غړي (NGOs)، د مدني ټولنو غړي، ټولنيز سازمانونه (CSOs)، اتحاديې ، ټولنې او نورې ثبت شوې اداري چې د (د طبيعي منابعو د مديريت په اړه مدني ښوونې او روزنې) په برخه کښې کار کوي ، شاملې دي.